دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامی جمهوري دولت
د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Electoral Complaints Commission**

پرله پسې شمیره: ( ۹۸ )

نیټه : ۱۷ / ۷ / ۱۳۹۳

## د لوګر ولايت د ولايتي شورا د کانديدانو د شکايتونو په اړه وروستی پريکړه

د ۱۳۹۳ کال د ولايتي شوراګانو له ټاکنو وروسته د ټاکنو د قانون د ۶۳ مې مادې د (۲ ) فقرې او د ټاکنيزو شکايتونو او اعتراضونو د ثبت اورسيده ګۍ طرزالعمل د ۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د لوګر ولايت په انتخاباتي حوزې پورې اړوند ( ۵۵ ) مورده ټاکنيز شکايتونه د انتخاباتي شکايتونو په خپلواک کميسيون کې ثبت شوي دي. د دې شکايتونو له جملې څخه ( ۲۷ ) مورده يې د ټاکنو د ورځې د تخلفاتو او درغليو اړوند وو، چې د رايې ورکولو پر مهال او د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د ۴۸ ساعتونو په موده کې د کانديدانو او د هغو د استازو له خوا د ټاکنيزو شکايتونو په خپلواک کميسيون کې ثبت شوي او (۲۸ ) شکايتونه د لومړنيو پايلو په اړه وو، چې د پايلو تر اعلان وروسته د ټاکنيزو شکايتونو د ثبت او رسيده ګۍ د طرزالعمل د ۱۴مې مادې له مخې د ۲۴ ساعتونو په موده کې د کانديدانو له خوا ثبت شوي دي.

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون ثبت شوي شکايتونه د انتخاباتو د قانون د ۶۶ مې مادې د (۱) فقرې، د ذکرشوي قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنيزو کميسيونونو د تشکيل، دندو او واکونو قانون د ۲۶ مادې د (۸) فقرې او د ثبت اورسيده ګۍ طرزالعمل د ۳۰ مې مادې پر بنسټ د ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۳ نېټې په علني غونډه کې، چې د انتخاباتي کميسيونونو د تشکيل، دندو او واکونو قانون د ۲۴ مې مادې د (۳) فقرې او د ثبت او رسيده ګۍ طرزالعمل د ۲۴ مې مادې حکمونوته په پام سره دکانديدانو، سياسي ګوندونو، مدني ټولنې او ټوليزو رسنيو د استازو او د ملي او نړيوالو څارونکو او کتونکو په حضور کې وڅېړل او د معترضينو د ټولو شکايتونو له اورېدو وروسته يې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۱ ) فقرې پر بنسټ د ټاکنيزې حوزې په کچه د شکايت کوونکو کانديدانو په غوښتنه د هغو انتخاباتي محلونو د رايو د تفتيش او بياشمېرلو تصميم ونيوه، چې په اړه يې شکايتونه ثبت شوي دي.

د لوګر ولايت د ولايتي شورا د رايو د محلونو د تفتيش چارې د رايو د اعتبار د تشخيص او بررسي د لايحې د ۶ مې مادې د (۱) او (۲) مې فقرې له مخې د ټاکنو د قانون د ۵۵ مې مادې د حکم په رعايت سره په لومړنيو پايلو کې د ټاکنو د کميسيون له خوا د برياليو اعلان شويو او معترضو کانديدانو تر څارنې لاندې ترسره شوې.

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون د ټاکنو د قانون د ۶۵ ، ۶۸ او ۶۹ مې مادې مطابق او د رايو د تفتيش او څېړنو ، چک ليستونو او اثباتيه مدارکو ته په پام سره د دې ولايت د ولايتي شورا د ټاکنو د هغو محلونو په ابطال

چې ليست يې له دې فيصلې سره (۱) شمېره ضميمه دی، پرېکړه وکړه. همدارنګه د تفتيش د پروسې د چک ليستونو، او اثباتيه مدارکو پر بنسټ يې په مشخصو محلونو کې، چې ليست يې له دې پرېکړې سره (۲) شمېره ضميمه دی د مشخصو کانديدانو د رايو په ابطال پرېکړه وکړه.

د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون دارالانشاء موظفه ده، چې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۳) فقرې او د ذکرشوي قانون د ۶۶ مې مادې د (۴) فقرې د حکم پر بنسټ د بيا شمېرنې د پايلو (۱۱۳) فورمې، چې د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون د رسمي مهر په وسيله تصديق او په نښه شوي له دې فيصلې سره مل د تطبيق لپاره د ټاکنو خپلواک کميسيون ته رسماً ابلاغ او د اجراء په اړه يې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون ته رپوټ ورکړي.

نوټ: (ابن فيصله ضميمه شماره ۲،۱ ندارد)

عزيزالله آريافر غړی

پيغمبر قل دوغن غړی

نادر محسنی منشي

ربابه عظيمی مرستياله

عبدالستار سعادت

ضمیمه شماره (1)

## لیست مراکز و محلات باطل شده شورای ولایتی ولایت لوگر

| شماره | کود مرکز | محل | تصمیم | مجموعه محلات باطل شده |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 503044 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 2 | 503045 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 3 | 501005 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 4 | 505058 | 6 | ابطال محل 06 | 1 |
| 5 | 504046 | ،01،02،03،04،08 | ابطال محلات ،04،02، 03،01 و 08 | 5 |
| 6 | 504047 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 7 | 501021 | 2 | ابطال محل 02 | 1 |
| 8 | 504049 | 01،02 | ابطال محلات 01 و02 | 2 |
| 9 | 501015 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 10 | 501020 | 01،02،03 | ابطال محلات 02،01 و 03 | 3 |
| 11 | 501019 | 01،02 | ابطال محلات 01 و02 | 2 |
| 12 | 501017 | 01،03 | ابطال محلات 01 و03 | 1 |
| 13 | 501014 | 1 | ابطال محل 01 | 1 |
| 14 | 501012 | 01،02،03 | ابطال محلات 01، 02 و 03 | 3 |
| 15 | 501007 | 01،03 | ابطال محلات 01 و03 | 1 |
| 16 | 501011 | 01،02،03 | ابطال محلات 02،01 و 03 | 3 |
| 17 | 501009 | 4 | ابطال محل 04 | 1 |
| 18 | 501006 | 2 | ابطال محل 02 | 1 |
| 19 | 501004 | 2 | ابطال محل 02 | 1 |
| 20 | 501002 | 02،03،04 | ابطال محلات 03،02 و 04 | 3 |
| 21 | 501001 | 02،03 | ابطال محلات 02 و 03 | 2 |
| 22 | 501018 | 3 | ابطال محل 03 | 1 |